safar

# دوام ورکړئ

## تل شاګرد اوسئ او شاګرد جوړ کړئ

### د پيل ټکی

افرين! تاسو برياليي شوئ چې وروستي ګامونو ته ورسېږئ. دا مهمه ده چې يو وخت وټاکئ او هغه څه چې څښتن ستاسو په ژوند کې سرته رسولي دي، ولمانځئ.

- يو بل ته د پای ته رسېدو به خاطر مبارکي ورکړئ!
- د ځينو مشترکو خاطرو چې په دې سفر په دوران کې مو لرلي او هېڅکله به هغه هېر نه کړئ، نومونه يې واخلئ.
- په ځانګړي توګه تاسو د يو بل په تړاو د څه دپاره منندوي يئ؟

### بحث او خبرې

دا چې څنګه د سفر په دې دوران کې مو بدلون کړی دی، په نظر کې يې ولرئ.

- څنګه د څښتن په هکله ستاسو نظر او د هغه سره ستاسو اړيکه بدله شوه؟
- څنګه د عيسی نه په ورځني ژوند او خپلو پرېکړو کې پيروي کوئ؟
- په کومو برخو کې اړتيا لرئ چې د شاګرد په توګه ودې ته دوام ورکړئ؟

### په کلام باندې تعمق او غور

هغه ليکونه چې د رسولانو په نوي عهد کې لرو، دا د ټولو ايماندارنو د هڅوني پر بنسټ ولاړ دي چې د عيسی په برکت او پيژندني کې يې وده کړې ده او تر پايه به د هغه پيروی او خدمت ته دوام ورکړي. د خدای د پيژندني او تجربه کولو دپاره زيات ټکي شته.

دوهم پطرس ۱: ۵-۸ او کولسيان ۱: ۹-۱۲ ولولئ.

- په ځانګړي توګه په کومو برخو کې تاسو احساسو کوئ چې پطرس ورته اشار�� کړې ده، بايد وده وکړئ؟
- د دوهم پطرس ۱: ۵ سره سم "بايد ډېر زيار وباسئ" ستاسو په ژوند کې به څنګه وي؟
- کله چې په دوامداره توګه وده ونه کړو، څه پېښېږي؟

بې له شکه ډېره مهمه برخه زمونږ د ودې، دعا کول دي (کولسيان ۱: ۹). د دې ايتونو کلمې وکاروئ، يو او بل ته دعا وکړئ چې تل د ودې په حال کې واوسئ.

### اصلي مفکوره

زمونږ سفر به د عيسی مسيح نه پيروي ته دوام ولري او په پايله کې به ډېره لويه خوشحالي مونږ ته ډالی کړي. مونږ بايد تل له هغه زده کړو او د هغه په شان ژوند وکړو، په خپل پاتې عمر کې له هغه سره همغږي شو. مونږ دا کار په هغه طريقه سر ته رسوو چې په دې سفر کې مو تجربه کړې دي:
دعا او د خدای د کلام لوستل

- د لومړني ګامونو نه مو زده کړل چې څنګه د خدای سره وخت تېر کړو، ورځنی دعاګاني او د هغه د کلام لوستل زمونږ د ودې سبب ګرځي.

د مسيح پر بنسټ يا محور ټولنه

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- د خدای د کورنۍ په توګه مونږ تل د کلیسا یوه برخه یوو. کلیسا هغه ځای دی چې مونږ په کې وده کوو، قوي کېږو او خپله ونډه سرته رسوو.

په عمل کې يې پياده کړئ.

- مونږ په عملي کولو د هغه څه چې مو زده کړي دي، زده کړه مو زیاتیږي، نو ځکه په هر ګام کې د عیسی مسیح د تعلیم د عملي کولو په لټه کې وو.

زمونږ مقصد دا دی چې مونږ باید د خدای د کلام عملي کوونکي واوسو، نه یوازې د هغه اورېدونکي (یعقوب ۱: ۲۲).

د دې ټولو شيانو په کولو سره، مونږ به د شاګردانو په توګه ودې کولو ته دوام ورکړو.

## همدا اوس په ګډه تمرين وکړئ.

د عیسی نه پیروي کول زمونږ د تمرین یوه برخه زمونږ په ژوند کې دا ده چې له نورو سره هم مرسته وکړو، تر څو همدا شان وکړي.
لکه چې له نورو سره مرسته کوو، مونږ پخپله هم له ننګوني سره مخامخ کېږو.
په دې وروستيو څو ګامونو کې تاسو دعا کوله چې سفر مو د يو بل کس سره پيل کړئ. لکه څنګه چې تاسو دا کسان غوره کړي دي. اوس د څو دقيقو دپاره هغوی ته دعا وکړئ.
که لا هم د يو کس په لټه کې يئ، لاندې ټکي په نظر کې ولرئ:

- چا ته کولای شئ چې بلنه ورکړئ؟
- څنګه کولای شئ چې هغوی ته بلنه ورکړئ؟
- تاسو فکر وکړئ چې چېرته به له هغوی سره وګورئ.
- هغه ژمنې چې دا په کې شامل وي، په پام کې ونيسئ.

د امکان په صورت کې همدا اوس له هغه کس سره د اړیکې په خاطر یو وخت وټاکئ او بیا هغه ته د سفر دپاره بلنه ورکړئ.

## هره ورځ خپل تمرين تکرار کړئ.

راځئ چې د زبور د دې برخې په لوستلو چې لومړني ګامونه مو له هغه سره پيل کړي وو، پای ته ورسوو. يو بل ته دعا وکړو.
" ښتنه، زه د خپل ملګري ــــــــ دپاره دعا کوم چې د هغه هيله او هوس تل ستا په کلام کې وي. دعا کوم چې په دوامداره توګه ستا په کلام فکر او غور وکړي. دا به د هغې ونې په شان وي چې د ويالې په غاړه کرل شوې وي او ډېرې ميوې وکړي. د هغې پاڼې مړاوې نه شي او هرڅه چې سرته رسوي، پايله ولري. دعا کوم چې د دې نړۍ باد هغوی له ځانه سره يونسي او ته تل هغوی وساتې."

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved